# ماشومانو مقدس کتاب

## وړاندې کونکے

# جنت د خدائ ښکلے کور




لیکونکے: Edward Hughes

خیال: Lazarus
Alastair Paterson

خوښونکے: Sarah S.

ترجمه کونکے: Aim4Faith Ministries

مددگار: Bible for Children
www.M1914.org

BFC
PO Box 3
Winnipeg, MB R3C 2G1
Canada



©2020 Bible for Children, Inc.
تاسو دا قیصئ نقل کولے شئ یا چاپ کولے شئ خو دا خرڅولے نۀ شئ.




کله چې عیسی په زمکه اوسیدو نو هغۀ خپلو شاګردانو ته د جنت په باره کښې ووئیل، هلته ډیر زیات کورونه دی. هغه یو لوئ او ښکلے کور دے. او آسمان د زمکی په مطابق لوئ او ښکلے دے.



عیسی ووئیل، زهٔ ځم چې ستاسو د پاره یو ځائ تیار کړم.
او که زهٔ لاړم او ستاسو د پاره ځائ تیار کړم نو زهٔ به بیا
راشم او تاسو به ځان سره بوځم.



3

عیسی د مړو نه ژوندے پورته شو او آسمان ته وختلو.
چې د هغهٔ شاګردانو کتل نو عیسی آسمان ته وخیژولےشو.
او وریځو د هغهٔ استقبال وکړو او د هغوئ د نظر
نه پنا شو.



4

د هغه وخت نه مسیحیانو ته د عیسی وعده یاده ده چې هغه
به واپس راځی او مونږ به ځان سره بوځی. عیسی ووئیل
چې زهٔ به ناڅاپه راځم چې لږ خلق به د هغهٔ امید
ساتی.خو د هغه عیسایانو د پاره څه
دی چې کوم وفات شوې وی؟
کتاب مقدس وایی چې هغوئ
به عیسی سره یو ځائ ځی.
مونږ د بدن وطن نه
جدا شو، او د مالک خدائ پ
وطن کښې اوسیدل مونږ ته
زیات خوابښ دی.




5

مکاشفه، د کتاب مقدس آخری کتاب، مونږ ته وایې چې
آسمان څومره ښائیسته دے. او د ټولو نه عجیبه او خاص
خبره دا ده چې آسمان د خدائ کور دے. خدائ هر ځائ
کښې موجود دے خو د هغهٔ
تخت په آسمان
کښې دے.



6

فرښتې او آسمانی ټول مخلوق په
آسمان کښې د خدائ عبادت کوی.
داسې چې د خدائ ټول خلق کوم
چې مړهٔ شوې دی. هغه په آسمان
کښې دی. هغوئ د خدائ د حمد ثنا
یوه نوې سندره
وئیله چې.



7

تهٔ د دې لائق یې ځکه چې تهٔ
حلال کړے شوې او په خپله وینه
دی د خدائ د پاره د هر خیل، د
هری ژبی او هر قوم او اُمت خلق
په بیعه وخستل. او د هغوئ نه تا د
کاهنانو بادشاهي
جوره کړه چې
زمونږ د خدائ
خدمت وکړي
مکاشفه ۹:۵



8

د کتاب مقدس آخر کښې آسمان ته نوے یروشلم وایی. دا یو ډیر لوئ دے او د دې دیوالونه ډیر اوچت دی، او دیوالونه یې د یاقوتو نه جوړ شوې دی،او لکه د ملغلرو په شان صفا دی. د دې بنیادونه د سرو زرو او د قیمتی کانو نه جوړ دی.
او دا
له مختلیفو
رنګونو کښې
ځلیږی. او
د ښار ټولې
دروازی د ملغلرو
نه جوړې شوې دی.



9

او د ملغلرو نه جوړې شوې دروازې کله هم نۀ بندیږی. راځئ چې دننه لاړ شو او هغه ووینو ....واه، آسمان خو دننه نور هم ښکلے دے. او ښار د سوچه سرو زرو نه جوړ دے تر دې چې د هغې
کوڅې هم د سرو
زرو نه جوړې
شوې دی.



10

یو ښکلے او روښانه سیند د خدائ تخت سره بهیږی د سیند په دواړو طرفونو د ژوند ونې دی.کومې چې ړومبے په باغ عدن کښې وې. دا ونې ډیری ښکولې او خاص وې. دې ونو به دولس قسمه مختلیفه میوه نیوله. او د ژوند د دې ونې پاڼې د قومونو روغولو دپاره وې.



11

آسمان ته د نمر یا سپوږمئ د رڼا ضرورت نشته. دا خدائ په خپل جلال او نور سره منور روښانه کوې. او هلته نۀ تیارۀ او نۀ شپه شته دے.



12

تر دې پورې چې آسمانی ځناور هم بدل دی. هغوئ ټول بې زراره دی، او لکه د ملګرو په شان دی، شرمخ او ګډوری یو ځائ خوراک کوی. تر دې پورې چې زوراور شرمخ هم د غویې په بوس خوری. چې کله مونږ اخوا دیخوا ګورو، نو مونږ.



13

سوچ کوو چې په آسمان کښې اوس هم څۀ څیزونه کم دی. د غصی څۀ خبره نشته. او نۀ څوک جنګ جګړې کوې. په یوه دروازه هم تاله نشته
دے ځکه چې هلته
څوک غلا نۀ
کوې. هلته
دروغژن،
او قاتلان، او
بد خلق نشته
دے. په آسمان
کښې هیڅ
قسم ګنا نشته دے.



14

په آسمان کښې هيڅ ژاړه او
فرياد نشته .کله نه کله د
خدائ خلق د ډير تکليف په
وجه ژاړه کوي. خو په
آسمان کښې به خدائ زمونږ
اوښکې اوچې کړی.



15

په آسمان کښې به بيا مرګ نه وی. د خدائ خلق به هميشه
هغۀ سره وی. هلته کښې به غم، تکليف يا ژاړه نۀ وی.
او نۀ به څۀ کمزوری او بيماری وی. او په آسمان کښې به
ټول خلق د خدائ سره
خوشحال وی.



16

او د ټولو نه غوره خبره دا ده چې آسمان هلکانو او جينکو
او د مشرانو د پاره هم دے چې څوک عيسی مسيح خپل
خلاصونکے ګڼی. او چې هغۀ ته خپل مالک وايې او د هغۀ
پيروی کوی. په آسمان کښې يو کتاب دے.چې هغې ته د
ژوند کتاب وايې. دا د خلقو د نومونو نه ډک
دے. تاسو ته دا پته شته چې
هلته د چا نوم ليکلے
شوے دے؟ د هغه
ټولو نومونه ليکلے شوی
دی چې څوک په عيسی
مسيح ايمان لری. آيا ستا
نوم هلته ليکلے شوے دے؟




17

د کتاب مقدس آخری خبرې جنت د تللو د پاره يوه ښه ذريعه
ده. او روحُ القدس او ناوې او هر آوريدونکے هم وايې چې
راشه او څوک چې تږی وی هغه دې راشی. او څوک
چې غواړې يې غواړې د ژوندون د اوبو نه دې ويريا
واخلی.




18

جنت د خدائ ښکلے کور

دَ خدائ په کلام په مقدس کتاب کښ دا قيصئ

شته دے

يوحنا14،2 کورنتيان5،
مکاشفه4،21،22

"ستا دَ خبرو تشريح نُور بخښی ."
زبور 130:119

19




60 60

20

دا قیصئ مونږ ته زمونږ د حیرانونکی خدائ په باره کښې ښودنه کوې چې چا مونږ پیدا کړو او چې څوک غواړی چې هغه مونږ وپیژنو.

خدائ پوهیږی چې مونږ ډیر علط کارونه کړی دی، چې هغې ته هغه گنا وایې. د گنا مزدوی مرگ دے خو خدائ مونږ سره ډیره مینه کوې نو ځکه هغۀ خپل یک یو زوئ راولیږلو چې هغه زمونږ د گناهونو د خاطره سزه وزغمې او په سولئ خپل ځان قربان کړې.او بیا عیسی د مړو نه ژوندے شو او آسمان ته لاړو. کۀ تۀ په عیسی باندې ایمان راوړې او د هغۀ نه د خپلو گناهونو بخښنه غواړې نو هغه به تا ته بخښنه وکړې. هغه تا خواته راځی او ستاسو دننه به استوگنه کوی او تۀ به هغه سره د همیشه د پاره ژوندے اوسیږی.

کۀ تۀ په دې ایمان لرې چې دا رښتیا دی نو خدائ ته ووایه.خوږه عیسی زۀ ایمان لرم چې هم تۀ خدائ یې. تا زما د خاطره پیدا شوې او زما د خاطره مړ شوې او اوس تۀ د تل د پاره ژوندے یې. زما په ژوند کښې راشه او زما گناهونه وبخښه، چې زۀ هم د نن نه ژوندون وموموم او د همیشه د پاره تاسره یم. زما مدد وکړه چې زۀ ستا تابعداری وکړم او ستا زوئ یا لور جوړه شم. آمین
مقدس کتاب ولولئ او خدائ سره روزانه خبرې وکړئ، یوحنا۳:۱۲